﴿جميع حقوق الطّبع محفوظة﴾

---

**الكتاب**: د ابو عمّار منظوم نصيحتونه او وصيّتونه

**المؤلّف**: العالم النّبيل الشّيخ عبدالوكيل بن شمس الرّحمن سلّمه الله تعالى

**الكاتب**: المتعلّم ياسر عرفات توحيدى

**الطّبعة**: الأولٰى ، ١٤٤٢ ھ ـ ٢٠٢١ م

**ناشر**

جامعه دارالقرآن لاشاعة التّوحيد والّسنة سعيد آباد كوټها

نزد مينى چوک صوابى

# فهرس المضامین


د بنده عاجزی خپل رب ته---------------------------------------------6
اے بچیه ! په دنیا مه نازگه ----------------------------------------------6
د الله کریم د قدرت عجوبې -----------------------------------------------8
یو تصور او مراقبه-------------------------------------------------------9
ژوند نعمت دے-------------------------------------------------------10
د دنیا کامیابۍ بغیر د دین نه د آخرت تباهی ده ------------------------------12
دوخت یو مثال---------------------------------------------------------13
وَلِلّٰهِ مِیْرَاثُ السَّموٰاتِ وَالاَرْضِ ---------------------------------------------14
د زړه درد ---------------------------------------------------------------14
عالمانو ته نصیحت --------------------------------------------------------16
انقلابات او بدلون ---------------------------------------------------------18
دعالمانو استقامت ---------------------------------------------------------18
د الله تعالی وجود ---------------------------------------------------------23
دغه الله دے---------------------------------------------------------------27
الله یقینی باد شاه دے-------------------------------------------------------32
د آخرت نه غفلت -----------------------------------------------------------35
یوه جرگه---------------------------------------------------------------------36
تاجرا نو ته -------------------------------------------------------------------37
په دی معاشره کښی ژوندون --------------------------------------------------39
د رب رحمتونه او زما گناهونه-------------------------------------------------40
د رحم امید---------------------------------------------------------------------40

د دنیا ژوند---------------------------------------------------------------- 41
ورځی او شپی او ژوندون------------------------------------------------- 42
د بل نه طمع کول او د هغی بدی ----------------------------------------------- 43
ځوانی -------------------------------------------------------------------- 43
د ځوانئ سبق ------------------------------------------------------------ 45
هواء ---------------------------------------------------------------------- 46
سبق ورکول د هواء ------------------------------------------------------ 47
سبق د نهرونو او سندونو ---------------------------------------------- 49
سبق--------------------------------------------------------------------- 50
ورځ ------------------------------------------------------------------- 52
عاجزی ----------------------------------------------------------------- 53
زمانه میلمنه ده --------------------------------------------------------- 54
میګې --------------------------------------------------------------------- 54
ونه------------------------------------------------------------------------ 56
د ونې سبق---------------------------------------------------------------- 58
بانګی------------------------------------------------------------------------ 59
زما بچی او شاګردان ------------------------------------------------------ 61
خاوره----------------------------------------------------------------------- 62
د احساس اور---------------------------------------------------------------- 64
د خلقو چالاکی او زمونږه سادګی----------------------------------------- 64
د هر انسان خیرخواهی -------------------------------------------------- 65
خلاصة الایت---------------------------------------------------------------- 65
په هر حالت د الله کریم نه دعا غوښتل-------------------------------------- 66

د غریبانو احساس------------------------------------------------------------ 67
په دنیا کښې سکون محال دے ----------------------------------------------- 68
الله کریمه زمونږه فیض عام کړه ------------------------------------------------- 68
جُبُن ، بُخل نه ځان ساتل----------------------------------------------------- 69
خلاصه ما فی مصارع العُشاق------------------------------------------------ 69
د خپل ځان ذِکرِ نیک پریخودل ------------------------------------------------- 70
د آخرت د سفر فکر --------------------------------------------------------- 70
د زندګی یو مثال------------------------------------------------------------ 71
خبرے په سوچ کول -------------------------------------------------------- 71
ژوندو له د مړو احساس ------------------------------------------------------ 71
د طلبِ علم مرتبه ----------------------------------------------------------- 72
دنیا یو خوب لیدل دی-------------------------------------------------------- 72
د زندګئ حقیقت--------------------------------------------------------------- 73
د آخرت سوچ------------------------------------------------------------------ 74
په دنیا کښې د قیامت استحضار----------------------------------------------- 75
د ژوند مقصود------------------------------------------------------------------ 76
د زړه خبره---------------------------------------------------------------------- 77
بادشاهانو ته ------------------------------------------------------------------- 78
نصیحت----------------------------------------------------------------------------- 79
(الصدق ینجی والکذب یهلک --------------------------------------------------- 80
زما اندامونه --------------------------------------------------------------------- 80
د بدن کینیات-------------------------------------------------------------------- 82
د ژوند د آخری لمحې تصور ------------------------------------------------- 83

نصیحتونه او وصیتونه ---------------------------------------------------------- 84
یو ځو نصیحتونه -------------------------------------------------------------- 84
د ژوند نه غفلت--------------------------------------------------------------- 86
یو نصیحت ------------------------------------------------------------------- 86
یو نصیحت ------------------------------------------------------------------- 87
ظالمه ګناه او ظالم بنده------------------------------------------------------ 88
خپلې مور ته----------------------------------------------------------------- 88
مـــــور ----------------------------------------------------------------- 89
ابوعمار وائی د مور قدر اوکـــړئ---------------------------------------------- 89
یو عرض---------------------------------------------------------------------- 94

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

## د بنده عاجزی خپل رب ته

اے ربه ستا بنده یمه ګنده یمه

تا ته زه بے حـده شرمنـــده یمه

ما نه چې څه شوی تا لیدلی دی

اوس هم لا د ډیرو آموختــه یمه

نفس مے راته وائی خیر توبه به کړے

اودرولے ئـــے د اُور په دروازه یمـــه

## اے بچیه ! په دنیا مه نازیږه

اے بچیــه ! که دا ټـولـه دنیـا ستـا شی

عمرِ نوح حسنِ یوسف درته عطاء شی

بادشاهی د اسکنــــدر دی په دنیـــا شی

تخت او بخت د سلیمانؑ شي په هوا شی

څنګ چې دوئ په دنیا نشته ته به نه ئے

اے بچیـــه ! یـــوه ورځ به داسے راشـــی

کومے شپے ورځے دانے چې تاله لیک دی

دا کیـــدے نشـی چې دا دی د بل چا شی

چې د بل په تباهۍ کښ فلاح ګوری

په دنیا او آخرت کښ دے رســوا شی

اے بچیه ! نن عمل صبا بدلے دی

د اوربـشو نه غنـــم کله پیدا شی

د ابوعمـــــــار وینـــا به دی پکـــــار شـــی

هغه ځائے کښ چې حواس دی وار خطاء شی

## د الله کریم د قدرت عجوبې

ستا هره ذره کښې قـــــدرتونه دی

ربه ! هر یو شی ته دی حیران یمه

خومره هِمَّت ناک خومره چالاکه دے

ربـــــه ! تور میږی ته دی حیـران یمه

څنګه دے لیـدل او اَلـوَتل کوی

ربه ! ماشکـی ته دی حیران یمه

ګل نه دے د ګل نه ئے رنګ اوړے دے

دے پـــــرپـــــرَکـــی ته دی حیران یمه

څنګه په اوبو کښې دے ګزران کوی

ربه ! دے مهـــی ته دے حیران یمه

خاورے خوری په خاوره کښې اوسیګی دے

دے پشَـــکالـــی تـــه دے حیــــــران یمه

چا چراغ په غوښه کښې بل کړے دے
دے اُور اُورَکـــی ته دے حیـران یمه

خــــومـــره ښکتــه پورته دلیلونه دی
بیــا دغه دهــری ته دے حیران یمه

شاه ته ئے موران[1] تا ته ئے قرآن درکړو
طالبه دی تنـــدی ته دی حیران یمـــه

چرته غریبـــان چرته قــرآن د رب
ربه ! سوګنـدی ته دے حیـران یمه

(۱)- باهوګان : شاهی کالے

**یو تصور او مراقبه**

مـــانـــه ته ګـیـــله کــړے چی تــه نــه راځے
لاره د راتــلـــو دے بنـــــده کــــړے ده
خـــلق دشاهانـــو لار هــــمواره کـــــړی
اے بـــــنـــده تـــا لاره بـــــنده کـــړے ده
ستا د زړه حجــــرے ته څنګه درشمـــــه
تــا یو بُت خـــانه ترے جـــوړه کړے ده

چـــا بادشـــاه دشـمن څـه کـــينـولے دے
تـــا خـو ميــمـلســتيا شــيطان له کړے ده

يـا خــــو زړه صـفـا کــه چـی زه درشمـــه
يـــا مـــے دغـــه لاره هيــــــــره کــړے ده
اے بـــنده راځـه دواړه صـــــــلاح کـــوو
دواړه يــــــوه پـــتــه مشـــــــوره کـــوو
بس کړه نـــور ځما شـه زه بـــه ستا شـمه

نـــور به ابـــوعمــــــاره مـشـغـولـه کـــوو

۱۷ ـ ۹ ـ ۲۰۱۸

## ژوند نعمت دے

اے انسانــــــه ليــــونے ئے دا دنيـــا تـــا لــــه جنت دے

دا چې ته پکښ ژوندے ئے دا ساعت د لوئے نعمت دے

دا چه ښکته بره گورے دا چی هر خواه نه سمسور ئے

دا چـــــه کوم ليدل کتل کے دا هم دا درله جنت دے

دا چــه تـــه پکښې ژوندے ئے دا ساعت تـــاله نعمت دے

اے انسانــــــه لیـــونے ئے دا دنیـــا تـــا لـــه جنت دے

تــه خپل رب پـرے یـادوے شے ، قـدرتـونو تـه کتے شــــے

دا یـــو فـــکـــر تصـــور دے ، ډیـر بے حـــده بے قیمت دے

دا چې ته پکښې ژوندے ئے، دا ساعت دے لوئے نعمت دے

اے انسانــــــه لیـــونے ئے دا دنیـــــا تـــا لـــه جنت دے

پـــه غوګونو اوریدے شے، پـــد ے سترګـو ئے لیدے شے

كه توفیق درله رب درکړو پکښې څومره لوئے عبرت دے

داچـه تـه په کښې ژوندے ئے دا ساعت دے لوئے نعمت دے

اے انسانـــــــــه لیـــونے ئے دا دنیـــا تـــا لـــه جنت دے

څوک بادشاه کړی څوک فقیر کړی

څوک خوشحاله څوک دِلګیر کړی

بـــــــدلول رابـدلول مـــــے

د قـادر بـــادشاه قــدرت دے

دے ژونـدون کښی لـــږ ژونـدے شه ، لګ راپاسه ګرځـــدے شه

کـــه اُوده شوے ابـــوعمـاره بـس په تـــا بـانـدے قـيامت دے

داچـه تـه په کښی ژوندے ئے دا ساعت دے لوئے نعمت دے

اے انسانـــــــه ليـــونے ئے دا دنيـــا تـــا لـــه جنت دے

محرم الحرام١٢

## د دنیا کامیابي بغیر د دین نه دآخرت تباهی ده

پـــــه دنيــا کښـــی کـــه هـر خـــومره تـــرقی ده

بـــــــے د دينــــــه ځمــــا رونړو ! تباهـــی ده

د چـــا وخت چـــی ټـول دنيـــا بـانـدے مـصروف وی

بيـــــداری نـــه ده هـــم دا بـــے پـــــرواهـــــی ده

په دنیـــا کښې کــه هــر څــومــره جَــوَړ لاړ شې

رونــــړو ! دا دنیـــا هـــم دومـــــره سرسری ده

اوښیـاران دی چــې طــرفتــــــه تــرے روان دی

د دے مینځ ته ټــوپ وهـــــل دا خـــود کُشی ده

نه ئـــے زاد ، نه ئـــے کشتــی، نه لامبـــــوزن دے

ته مــــے بـــچ کړے ربـه ! تــا تـــه مـــے زاری ده

۲۱ محرم ۱٤٤۰

## دوخت یو مثال

وخـــت د واورے ګـــټ دے ویـــلی کـــیـــږی

اے نــادانـــــه هســــــے ضــــائع کـــــیږی

هـــیـــڅ ګـــټــه دے دِی ګـــټ کښــــی اونـــه کـــړله

خــــــه ویـــــنم چـــه زمـــکے تـــــه تــــوئیـــګی

دا هــم خـه وه تــا پــرے هــغه اوکــــــړلـو

ګــتـــــــه ځــه کــے سر دی پــرے مـــاتیګی

ګــتـه ځــــــه کښـــی اصـــل مـــال هــم لاړلـــو

اے ابـــو عـــماره ځـــــــه بـــــه کـــــــیږی

وَلِلّٰهِ مِيْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ( الآیه )

هـــرڅـــه د الله دی یـــو الله تــه پــاتے کــیـــــږی بــه

هــــر انسان دوه لاســه او دوه خپــــے تــرے رخصتیـــګی به

**د زړه درد**

کـــله کـــله زه پــه ســوچ کښـــی شــم ډونګے شمه

زان ســـره خـــبرے کـــــومــه لیـــونے شـــمـــه

چـــه زه ځــه ووم دا اوس دی ځــه بــه کــــــیږی

ځان جهان راتــه بـــدل شـــی ســحرانے شـــــمه

پــــه صــحـــرا کبنـــی ونـو بـوتـــو څـــه خبـــری
زه لګیـــایـم دوئ غـګ نـه کـئ نـــو مســکـے شـمـه

ســــــترګےخکته غــــــریب نـــیولــے ســـر خوزومـــه
پـــه سلــــګـو سلــــګـو لـــوخړه ســپیلنـــــے شـــمـــه

ســــــترګــــے اوخــکــے بَیـَــوی زړه مـــے جـړیـــــګی
نـــه انسـان ووم نـه انسان یـــم نـــه کـــیدے شمـه

د چــــوری چـــوری زړګـــــی مـــجال شـــــی خـــــتم
هـــر یـــو رګ مـــے شـــی لـــمبه لوګے لـــوګے شـــمـــه

یـــا پـــیـدا ابـــو عـــمار نـــــه وے دنـــیا کبنــــــی
یـــا خو دا وے یـا خو دا وے بس ګـــونګےشمــــه

۲۲محرم الحرام ۱٤٤۰

## عالمانوته نصیحت

ته خو سترګه وې د قوم ولې ړنده شوې

ناروا په دنیا کیږی نه سوزیږې

چه به بل کلی ته ډول اوسورنا راغلل

سوزیدل به مړه کیدل به ته غټیګې

چه کوم کلی کښی به شرک وو یا بدعت

رسیدل به ته اوده ئې نه ویښیګې

په سوونو رسومات دنیا کښی کیږی

ډوډۍ اوخورې پسې څښکه اوده کیږې

چه خه وینې جهنم ته ور روان دی

دې محفل کښی ورځه خاندې خوشحالیږې

ته په څه باندې عالِم شوې ابوعماره

چــه په غـــم د دے عــالَـم کښ نه جړیګے

۱۹ محرم ۱٤٤۰

## انقلابات او بدلون

مــا بــه وئــیلے شته تـا ویئلے نشته دے

ولے زنـــدګیہ کښں پــریـشانـــــه ئـے ته

مَـــلا دے راګکـــه پــه خـــلــورے شوے

نــن دے کـه صبـا دے خو تــرے روان ئـے تـه

را بـــه شی د مــرګ ملـک به اووینـــے

قبـــــر کښں خــومــره بنــدیوان ئــے ته

بـس کړه په ګنـاه بانــدے خپیمـــانه شه

ورنه په قیـامت کښں به خپیمـــــان ئے ته

## دعالمانو استقامت

پـــه بـدلــون د زمـانـے چــه نــه بــدلـــیګی

حــقـیـقـت کښـــی دا رشـتینی عالـــمـان دی

ښکلي دي هغه چې به وي او دي وي

حقیقت ګټه دا ښکلي دي علمی ماشوم ته

یو مذهب او یو دستور او یو کلتور

که مشرق که په مغرب ګټه هر مکان وي

حقیقت ګټه دا ښکلي دي علمی ماشوم ته

صدی تیرې څه تیری څه به راشي

ښکلي چه وو هم داسې دي او هغه شان دي

حقیقت ګټه دا ښکلي دي علمی ماشوم ته

زه ماشوم ووم بیا ځلمې اوس ځلو وختې شوم

اماماني ددین مې هغه امامان دي

حقیقت ګټه دا ښکلي دي علمی ماشوم ته

صـــدو مخکښې چـه به څـنګه یـو اختر وو

نـن ئـــے هم اختـــــر جمعـــے په هغه شان دی

حقیقت کښ دا رشتینـــی عـــالمِـــان دی

اتـفـــــــاق او وحـدت نـدے نـــو نـور څـــه دی

ټـــول جـهان کښـــی دا یـــو شان وو او یو شان دی

حقیقت کښ دا رشتینـــی عـــالمِـــان دی

څـــوک روپـــو اوڅـوک په کـرسو پسے بدلیګی

مـحـــــــــرابـونـه پـرے ودان وو اوس ودان دی

حقیقت کښ دا رشتینـــی عـــالمِـــان دی

پـــه یـــو څـــو روپـــو اړو د دیـــن نـوکر دے

حقیقت کښی د بـچـــو مـو خیر خـواهـان دی

حقیقت کښ دا رشتینـــی عـــالمِـــان دی

نــه بــےعــقلــه نه کمــزورے نه کنــډم دی

بلـــکه دوئ د مـعاشـــرے عـقلمـندان دی

حقیقت کښ دا رشتینـــی عـــالِمـــان دی

کـــه عالــم نه وے نکاح ، حیــاء به نه وے

ورتـــه اوګـــوره بے دیـــنه ټـــول غـویان دی

حقیقت کښ دا رشتینـــی عـــالِمـــان دی

کـــه عـــالِم د دنیـا لاړے عـــالَم لاړے

فـــرامین مـــے د نـــبی آخـــر زمان دی

حقیقت کښ دا رشتینـــی عـــالِمـــان دی

چـــه حـــیاء ایـــمان غـــیرت راتـــه راښـائـــی

خیرخواهان دی خیرخواهان دی خیرخواهان دی

حقیقت کښ دا رشتینـــی عـــالِمـــان دی

ښوارلس سوه کاله مخکښې چه کوم دين وو

هــغه دے هــغه به وی اوس هــم ودان دے

حقيقت کښې دا رشتينـــی عـــالمِـــان دی

کـــــوم چــه ســتوری د اسمان دنـيا لـــــيدلی

الوســـی او قـــــرطـــبی رازی عـــيـــان دی

حقيقت کښې دا رشتينـــی عـــالمِـــان دی

مور او پـلار وائی چه د نمـــــره بچـے بــچ شوے

د ســـــور اور نـه بـچ کـونـکی دا داعـــيان دی

حقيقت کښې دا رشتينـــی عـــالمِـــان دی

ابو عمـار وائی مور او پلار مے پرے قربــان شه

عالــمان که ئے بــچی که ئـــے خيــرخواهان دی

څنګ چې وو داسې به وی او هغه شان دی

حقیقت کښ دا رشتینی عالِمان دی

۱۰ محرم ۱٤٤۰ صباحًا ۷۱۰

## د اللّٰه تعالی وجود

ته وے کوم دے چرته نشته

زه ویم ځان درکړے چا دے

دا چی ته په څه غګیګې

دا زبان درکړے چا دے

پرون نه وی نن پیدا شوے

اوس پدے باندے ګویا شوے

چه خالق اومالک نشته

ګوره دومره بے حیاء شوے

خــــــــپــو نه واخـلــه خــاص تــــر ســـره

هــــــر انــــدام دركـــــــړے چـــــا دے

دا چـه تــه پــه څــه غګيګـــے

دا زبـــان دركــــــړے چــا دے

عـــــقــل هـــــوش ئـــے درلــــه دركـــــړۀ

انـــــــدامـــــونه بـــــــــرابر كــــــــړۀ

چـــــه تــرے تـا غــوختلى نــه وو

نــعمــتــونــه درلــــه دركـــــــړۀ

دا چـــه تــــه پــــرے اعتـــــراض كــړے

دا لِـــــــسان دركــــــــړےچــــا دے

دا چــــه تــه پــه څــه غګيګـــــے

دا زبـــان دركـــــړےچـــا دے

چــــه لګ لوئـــــے شــوئے په خنـدا شوے

پاک الله پســــــے لـــګیا شــــــــوے

ګــوره دومــــره ئـــــے ناشـــکره

ګوره څـومـــره بــےحـیاء شــوے

زمـکـــــــــه غـــــرونه دریــــابـــونــه

دا اسمـــــــــان درکـــــړے چـــــا دے

دا چــــه تـه پــه څــه غګیګـــــے

دا زبـــان درکــــــړے چـــــا دے

ستا بـــــدن کبنـــی طــاقــتونـــه

ســـــتــا د ژبـــــــــے آوازونــــــــه

ســـــتا بـــــے شــــماره پتہے پلـــے دی

ســـــتا دا ټـــــول حــــرکـــــتونـــه

دا چــه نمــر پــرے راښکـــاره شو

دا جهـــــان در کـــړے چـــا دے

دا چــه تــه پــه څــه غګیګـــے

دا زبـــان درکــــړے چـــا دے

نــــــادانـــان دی نــــه پـــــوهــــیګی

پـــه پــــردۍ ژبـــه غـکـیـکـــــی

چــه د زړۀ لـوښـی کـښی څـــه دی

بــس د خُلـــے ئـــے رادوړیګـــی

ابـــو عمــــاره خـــوږ جــانـــان

او دا قــــرآن درکـــړے چـــــا دے

دا قـــلـــم اولـیکـــــل واړه

قــلـم دان درکـــړے چـــا دے

دا چــه تــه پــه څــه لګـيــا ئـے

دا زبـــان درکـــــړے چـــا دے

**دغه الله دے**

هـــره پـــانـړه چې رپی دغـه الله دے

تـــول شینکی چی راخیجی دغه الله دے

چې د کومے پـانړے وخت بره پـوره شی

هغـه زيـړه راغـورځی دغــه الله دے

شپه په ورځ باندے بــدله کړی غـــافله

ورځ په شپے باندے بـدلئ دغه الله دے

د سحـــر خُکلـو وګمـــو کښ سرودونه

دا مـرغی چې څوک چغـی دغـه الله دے

د مشرق پـه غـــرونو لړلړ رانبکاره شو

مازيګـر چې به ئے ډوبی دغه الله دے

دی وړے ذرے دانے نه دومـــره ونـــــه
پـــانـړه ، ګل ، میـوه درکـــی دغه الله دے

دا سحر ، غرمه ، ماښام ښکله بدل کړی
موسمـــونه چې بـــدلـــی دغـــه الله دے

ماشومان ښکله ځـــوانان بیا بوډاګان کړی
حـــالتـــونـه چې بـدلـــی دغـــه الله دے

یوه زمکه کښې دا خکـــته پورته ښنګ شو
سمے غـــرونه چې جـوړی دغـــه الله دے

دا چې ټـــول ئـے میلمـــانه دی اے نادانـــه
میـزبانی چې ئے څـوک کـی دغه الله دے

اوبه ګټـه ، ګـټ نه بیـا کړی اوبه جوړے
طبیعتـونه چـــې بـدلـــی دغـــه الله دے

چــا دی غــوښے له طـاقت د کـلام ورکړو
وازګـه ښنګـه لیـدل کـیږ دغـه الله دے

کرپندی کښ ئے احساس د بوئے پیدا کړو
په هـــډوکـــو چـې اوری دغـــه الله دے

ښنګ چې تا کښ یو نظام ته پرے ودان ئے
دا نظـــام چې څـوک چلـیږ دغـه الله دے

سپین څادر د واورے چـا دے غـوړولے
شنـو اوبـو کښ ئے بـدلیږ دغه الله دے

شنـه سینـدونـه دریـابونه ئے روان کړی
بـــارانـونـــه چـــې وریږ دغـــه الله دے

تورو خاورو کښ دانه پسته ورسته کړی
بیـــا فصلـونه راخیجـيږ دغـــه الله دے

زمکه چــا خائسته قالیــن دے غوړولے

دا په دی کښ چې څه کئ دغه الله دے

یــوه ذره کښ چې بے شمـــاره نظـامـونه

جمـع کئ بیــا ئے چلــئ دغــه الله دے

سر او خپے ادراک شعــور څـومره کارونه

یو میګی کښ راځائے کئ دغه الله دے

چــا نظــام د خوراک ده کښی پیـــدا کړے

بیا ئے ترے څنګه خــارجــئ دغه الله دے

تلل،لیـدل،ځان بـــچ کول،بچـــــی راوړل

روزی څنــګــه ور رســئ دغـــه الله دے

انسانـــانو کښ تــور سپیـــن نـرم او سخت

مزاجـونه چـــې ورکـــئ دغـــه الله دے

په لکـــونـــو پـــه کـــربونو مخلـــــوقـات

یــو د بـــل نه جـــدا کـئ دغـــــه الله دے

پـه یــو ورځ په یوه زمکـه بـــاغ ودان کــړه

پـــانـړه پـــانړے نـه بـدلئ دغه الله دے

څوک پیدا کړی څوک فنا کړی څوک جدا کړی

چـــې دوه زړونـــه یــــو ځـــائے کئ دغه الله دے

چا له مـــال چا لـــه جمـــال چـــا له کمـــال

تقـدیرونــه چې بـــــدلئ دغــــه الله دے

څوک خانان څوک غریبان څوک ملنګان کړی

چـــې رزقــونـــه تــقسیمـئ دغـــه الله دے

چـا له ښنګـــه چا له ښنګـــه چا له ښنګـــه

څوک چې ښنګه ښنګه کئ دغه الله دے

که هــر څــومــره ګـهنګار ابو عمــار دے

ګـهنګار چې به معـاف کئ دغه الله دے

ربنا تقبل منا انك انت السميع العليم

**2020 \ 12 \ 5**

**4:10** بعد العصر

## الله یقینی بادشاه دے

دا چـــه پانړے رپوی دا کــوم بادشـــاه دے

دا هواء چــه چــلوی دا کــوم بــادشــاه دے

څوک اودهٔ کړی څوک بیدار کړی څوک په لار کړی

څوک بـے لارے چــلوی دا کـــــوم بادشاه دے

دا چـــه وریـــځے راولـــی په آسمانونو

دا بـــاران چـه وروی په سمــــو غرونو

وچـه زمـکــه لــونـــدوی دا کـــوم بادشـــاه دے

دا هـــــواء چـــه چـــلـــوی دا کـــوم بادشـــاه دے

دا اوس خـرۀ ده بـــس مـــونږ د ســحـــر اوشـــو

څوک اوده شـــو څوک په څه پسے خوارۀ شـــو

دا چـــه نمـــر راخـیــجـوی دا کـوم بادشـــاه دے

دا هـــواء چــــه چــــلـــوی دا کــــوم بادشـــاه دے

دا سحر چې مازيګر کــــړی ښکــته نمـــر کـــړی

څوک خـوشـــحـــاله څوک خفه دلګير زيګر کړی

دا بـــدلول چـــه راولــــی دا کـــوم بادشـــاه دے

دا هـــــواء چــــــه چـلوی دا کـــوم بادشـــاه دے

څـــوک وارۀ کـــړی څـــوک ځـــوانان کړی څـــوک زاړۀ کړی

څوک غـــريب کړی څـــوک فــقـــير کړی څـــوک ماړۀ کړی

ابــوعــماره یــقیــنی دغــــه بــاد شـــاه دے

دا هـــــواء چـــــه چـــلوی دغـــــه الله دے

۱۷ محرم ۱۴۴۰

## دآخرت نه غفلت

یا خــو ئے دوی نـــه مـــنی یا خو ترے هیـــر شــوے دے

څوک چه ئے په سوچ کښې دی زړهٔ ئے جړیـــدلے دے

نه پـــکښـــی دروغ شـــتـــه دے نه ترے بلـه لار شته دے

نه تـــرے څــوک پټ شــوی دی نه ترے تختیـدلے دے

څوک چه ئے په سوچ کښـــی دی زړهٔ ئے جړیـــدلے دے

نه بره تـــرے ختــلے شی نه خکـتـه کوزیـــدلے شـــی

مشرق مغرب هم لرے دی نه مینځ کښی خلاصیدلے شی

اے ابـــوعماره هـــر انـــسان ئے راګـــیر کـــــړے دے

څوک چه ئے په سوچ کښې دی زړه ئے جړیدلے دے

۱۶محرم عند آذان مغرب ۱٤٤٠

## یوه جرګه

اے مــــخلوقـــــه پاســـــئ یـــــو جـــــرګـــــه کـــــوو

رب لـــــــــــره ور ځـــــــــو یــومشـــــوره کـــــوو

څـــــــه چــه مــونــړه کـــړی هـغه هـم کـــړی دی

بــس دے ربـــــه تـــاتــــه نـــور تـــوبـــه کـــوو

تــــــانــه ســوی چـــاتــه چــه مـــونــړ کـــړی دی

نــــه بـــه کـوو بــــس تـــاتــه بــه سجـــده کــوو

چـــانــه چـــه مـــونــړ سوال او زاری کـــړی دی

نــه بــه کــوو بــــس تــا نــه بــه هیله کـــوو

رب زمــــــونــــږه تـــه وے بــل لــه تــلی یــــو

کــــــړی مو نــارواه ویــنا صــــــــفا کـــوو

دغــــــه وخـت دے دغه وخت راضی ئے کـــــــړئ

داسے پـــه ورتـــــلو بـــه بیــــا جـــــړا کــوو

زرکــــــــه ابـــوعــــماره مـــهــربــانــــــه دے

رب بـــــــــه کـــــړو رضـا بـیا بـه خـــنده کـوو

۵ ــ ۱۰ــ ۲۰۱۸

### تاجرا نوته

تـــــه خـــو یــــو تــاجـر ئے درنــه سوال کـــوم

خــپل مال کښــی دروغ او دهوکــه مــــه کــوه

څه چــه مـــــقــرر وی درسیــــــګی بــه

تــــول کښــی دے کمے او زیاتــے مه کـوه

تــــولــــه دنیا ورکـــــه خـو دین ورنــه کــــې

مــــه کـــــوه تــــه دا تــــجارت مــــه کــــوه

خــــه د پاسه کــښ بــد ورکــول کــــوې

داســـېعـــادت مــــه کــــوه دا مــــه کــــوه

لــوږې نـــه ځـوک مـړ څه رشتیا وایه

طلـب چه د روزۍ کې طلب خـه کـوه

نه پرې ځوک مـړیګی نه ماړه شـــولو

د زړه په غوګو واره سوچ پرې خه کوه

اې ابوعمــــاره یــاره مـــړ شــه خـو

مــه کــوه حـرامــه نـــوړئ مه کوه

۱۱محرم ۱٤٤۰

## په دې معاشره کښې ژوندون

ربــه دے معــاشره کښــې ژونــدون ګــران دے

هـــــر دیــنــدار پکــښې د پــوزے اویــزان دے

کــه د دوئــی په رنګ رنګ کیــږو تبــاه کیــږو

کـــــه جدا تریــنه اوسیــګــو وائــی وران دے

هــر څه خپل خو څــه اختــیار مو پکښــی نشته

هـــــر اوخیــا ر پکښــی نن څــکه پریشــان دے

چــه دا څــه وو څــه را اوشــو څــه به کــیږی

ابوعمار ګوتـــــه په خــله ورتـــه حیران دے

۱۵ اګست ۲۰۱۸

## د رب رحمتونه او زما ګناهونه

مــنــمـــه زما ربه ګــنهـګار یمـــه

ډیـــر زیات خـطاء کار یم سزا وار یمـه

خـو ستـــا درحمتـــونو انتهـــاء نـشتــه

زه ابـــو عمـــار ئے امیـــد وار یمـــه

### د رحم امید

ربـــه یو کـتـــاب تا نازل کړے دے

سر کنبی ئے تا دا عـنوان لیـــکلے دے

زه الله رحیـــــم یمه رحمـــان یمـــه

ځکـــه ګنهګار په اطـمـــینان یمـــه

۱٦ اګست ۲۰۱۸

## د دنیا ژوند

﴿الله تعالی فرمائی وما الحیوة الدنیا الا لهو ولعب﴾

الایة

ژونـــد د دنیـــا نه دے لوبـــے ټوقـــے دی

څـوک ورته راځی څـوک تــرے روان دے

چــا بانـــدے شپـــه تــیره شـــوه سحــر شـولو

څـــــوک د هــجــر شپو کښـــی بــندیوان دے

چا بانـــدے بانګ کیـږی اوس پیدا شولو

چا بانــدے مونــځ اوشو جوړ سوران دے

چا بانــدے ځوانــی راغــله مستــی راغــله

څـــوک دپـیری ژونـد کښـــی اویـــزان دے

سواره دی په سوارلــئ د ورځـے شپـے بانــدے

ویــخ دے کــه اوده کــه هــر انســان دے

اے ابـــوعماره فنـــاء کـــــیږی به

خان دے که غریب دے که سلطان دے

۲۰۱۸\۹\۵

**ورځی او شپی او ژوندون**

ورځـے شپـے صبا شوے خبــر نه شولو

څــه وه زنـدګـی څــه له راغـلی وو

څنــګــه چه تیــرو شو ونــه خبـر نه شو

داسے په راتلــونکـــی تــیر وتلـی یو

اے ابو عمـــاره ځان بـیدار که ته

داسی راته خکاری پرے ورغلــی یو ۱۲ محرم ۱۴۴۰

## د بل نه طمع کول او د هغی بدی

دومــره غلـــط نیــت ظالمــــه ته اوکـــه

ولے دے دا کار دومـــره خـــطا اوکــــــه

دوئ له چه ورکـــئ تاله ئ درکـــولے شی

گوره اعتمـاد دی په بل چـــــا اوکــــــه

ابو عمار ۸ \۹\۲۰۱۸

د سرو زرو نــــه سره او د ســـپینو زورسپینــــــه ده

چه رب پرے خفه کیږی زه په داسے حسن څه کوم

ابو عمار ۲۸ اپریل ۲۰۱۸

## ځوانی

ستا د زندگئ یوه حصـــه یمــه

ډیره قیمتی ډیره خائسته یمـــه

خـــومره چه بے حده قیمتي یمه

دومره داحتیاط روره جوګه یمه

هره توره ګوره په ځوانئ کښــــــي وی

ورک دے بوډا توب شی ترے خفه یمه

ډیرو نه زان ورک شی په هوا شی دوئ

نه پوهیګی دوئ چه زه نشه یمــــــــه

څوک مے کړه د لاندے چا د لاندے کړم

خه پوهه شـــــه زه یو تمــــــاشــــــــه یمه

تـیره شومه تیره حصاریګم نه

زه یو خوب لیدل یایوچپه یمـه

اےبوعماره غــــــــرورمــــه کوه

چاچه غرورکړےترےخفه یمه

## د ځوانۍ سبق

چا چه په احتیاط دا وخت تیر کړے دے

روره هغــــه خـــــلقــو پیـژندلے دے

چانه چه زان ورک شی او مستی اوکړی

دےصباپه قوم کښـــــی شرمیدلےدے

چا چه روره ماته پــتون والے دے

پریخے دےمیدان بیا تختیدلے دے

پاسه په ځوانۍ کښـــــــی عبادت اوکړه

شرمـــخ چه بــوډا شی غـــور زیدلےدے

هسے ئے ورته وئیلے چه زه ستا یمه

اے ابو عمـــاره تخـــتیـــدلے دے

۲۰۱۸\۹\۱۱

## هواء

زه یمه هـواء ستـــــا زندګی یمـــــه

ستا خدمت کښې هر وخت ولاړه یم

کله اے انسانه چه ته ساه اخلے

خکته بره تلو کښې تابعداره یم

کوم طرف ته امر د الله چه وی

هلته زه روان په خپله لاره یـــم

دهرے ونےبوټی تازګی یمـــــــــه

دهرے پانړےخواه کښې ناقراره یم

شپه وی که غرمه هره لمحه چه وی

هروخت حرکت کښې په تلـواره یم

کوم ځائے کښی چه چرته څه خلاء راشی

ماوی ډکـــــــــــه کــــړی پر وقاره یم

کله چه غرمه کښی ئےخولو کښی ئے

راشـــــم په تا څــــــومره مــــزیداره یم

تاله د دریاب نه قلنګ واخلمـــــه

وریځ لره ئے ورکوم امانت داره یم

کله چــــه باران دا امانت در کـــــئ

مخکښی روستو څومره زه بیسیاره یم

## سبق ورکول د هواء

اے انسانه ته هم رحمتونـــــــه شـــــــه

هر خواه ته هر خیر دپاره تلل کــــــوه

کوم طرف ته حکم دالله چه وی
خدائےدپاره هلته رسيدل کـــــوه

ښکلې چه هواء د تابـعداره ده
دا رنګی هم ته د رب منل کوه

یه انسانه بل سره احسان کوه
هوا شه د رحمت خه یخول کوه

هرکله چه زه یم زندګی دا ستا
دا فضا همیش صفا ساتل کوه

اے ابو عماره پتــه نه لګـــــی
باد شه د رحمت خیر خورول کوه

۲۰۱۸\۹\۷

## سبق د نهرونو او سندونو

نهرونه که سندونه دریابونـــــه دی

دا مے د رب لوئے لوئے نعمتونه دی

د واوری او باران نه جولئ ړکه کـــــــی

ما او تا ته ئے راوړی پکښی خوندونه دی

شپه ورځے دا ټول په حرکت کښی وی

ځکه ئے حرکت کښی برکتـــونـه دی

زان سترے کـــوی زان رسوی هلتـــــه

کوم ځائے کښی چه چا ته حاجتونه دی

زان سترے کوی چه بل خوشحاله کړی

ما او تا ته پدے کښـــی سبقونـــه دی

خير که زه ګنده شوم ته صفا شولے

بل غوره کول دی کښې اجرونه دی

ځان خاوره کښې پټ کړم بل زرغون کړمه

اوګوره چمن کښــــــې سره ګلونــــــه دی

## سبق

داسے ذريعه د زرغونے شه تــــــــه

بـــــل کاميــابولــــو کښې رازونه دی

ګـــوره زماسينه ښومره فراخه ده

داپکښې ميان سيپئ لعلونه دی

دارنګی سينه دې ته فراخــــــــه کړه

خپل دی که پردی که ټــول قامونه دی

نـــــرم شه زما پشانےنرم شــــــــه

لاره باندے تلو کښی کمالونه دی

خپلو ته د واورے پشان یخ شه تـــه

ډوب که دشمنان اګر که غرونه دی

ما کښی چه ګوری ځان به او وینـــــی

داغ د شیشے خپل بل کښی داغونه دی

انهار دی که نهار په حرکت کښی دی

منزل مقصود ته منزلونـــــــــه دی

اے ابــو عماره سر ته نـــــه رسی

دومره په اوبو کښی حکمتونه دی

۲۰۱۸\۹\۶

## ورځ

هره ورځ دنیا ته میلمنه راځی

بیرته مخلوقاتو نه خفـــه راځی

رب ته په جـړا شـی دا فریاد کوی

ما څه هغه اوکړه په خُله نه راځی

رب ئے دلاسه کړی تسلی ورکړی

دا مخلوق به ما تـــــه یو پیره راځی

یه انسانه دومره قدرمنـــه ده

تولہ دنیا ورکه بیرته نه راځی

یو ساعت کښی دومره څه گټلے شي

ډکه دا دنیا کړی پکښــی نه راځی

مه کوه ارمان به پســـــے اوکړے بيا

کله چه د ژوند آخرلمحـــــــــه راځی

چا چه دا رټلے زه ئے رټـــــلے يم

ورځ به د قيامت ډيره اوګده راځی

چـا چـــــه ابــــــوعمـــــاره دارټـــلےده

څه اوويم که خلاص شی خيال مے نه راځی

٢٠١٨\٩\٤

**عاجزی**

ځان ژوندے په زمکه خخ کـړه لکه زړے

يوه ورځ به د دے خاو رے نـــه بيرون شے

چه په خاوره کښی پسته او خه ورسته شی

ابو عماره بيا هغه دانه زرغـــون شـــــی

## زما نه میلمنه ده

زمانه دے میلمنه ته ئے کـــوربـــه ئے

په خپل کور د دی میلمه خه قدر اوکه

کـــــه بےقــدره درنه لاړه ابو عمـــاره

پاک الله دےکړو خفه نو بیا به خه که

۱۲اګست ۲۰۱۸

## میږې

ګوره ما ته څومره همت ناک یم

چا وئیلی چه ما همت بیللے دے

ذکـــر زما اګوره قرآن کښـــی شته

رب په سورة نمل کښی ستائیلے دے

سر نه والے خپو پورے ماسه نه یم

ما لوړو سرو ته تکل کړے دے

کله چه ئے ما څه مقابله راشـــی

ما هغه انسان ته زور خودلے دے

مړ مے کړے خو زان نه مے جدا نه کړے

ګـــوره ما ته سر مےشــــــوکیدلے دے

وزن ځـــان نه زیات اوړمه ته اوګوره

قوم مے خپل تنظیم باندے پیللے دے

نیغ په لار روان وی دے کړیګـــی نه

هر ځائے کښی مقصد ته رسیدلے دے

شان زما اوګوره دومره لوئے دے چه

حضرت سلیمان څه ګړیــــدلے دے

خوومـــــــــره اتــــفاق او اتحـــــاد لرم

هر شے مے وحــــدت خه یرولـــے دے

اے ابو عماره د قوم خیر گـــــــــوره

میگے په خیر خواهئ اللّٰه ستائیلے دے

۲۰۱۸\۹\۱۱

**ونه**

هره ونه بوټے دا ثنا کـــــوی

هر وختے دوئ ذکر د اللّٰه کوی

نه غافله کیږی رب یادولو نه

هره یو لمحه کښی یو ادا کوی

کله چه خاموشه ئے تصور کوی

کله اوبُگنیگی نو شنړا کـــوی

کله چه سپرلے وی دوی خوشحاله وی

کله چه خـــزان وی نو جـــړا کوی

کله چه هوا د رب پیغـام راوړی

سر په خوزیدو شی الاالله کوی

خنګ چه راتوکیږی دوئ دزمکے نه

یو دے رب مے یو دے دا صدا کـوی

کله چه طوفان او زُل جکړ راشی

مستے شی بیدارے مقابله کوی

کله په قیام کله رکوع کښی وی

اے ابو عماره خوند ئے دا کـوی

۲۰۱۸\۸\۲۹

## د ونې سبق

کله چه زه اوچه شم لرګے شمـــــــــه

بيا هم ستاخدمت کښې تور لوګےشمه

اوسوزم ډوډۍ تا له پخه کړمــــــــــه

ځان په سرو لمبو کښې غر غنده کړمه

ته هم زان لوګے کړه بل خوشحاله کړه

سورے د رحمت شه خـــورول کــــوه

کله ئے قيام کله سجده کــــوه

اے انسانه رب ته جړيدل کوه

کلک او مستقيم شه خپل مقام باندے

د غرونو په سرونو اوسيدل کــــــوه

اے ابـــو عماره تابعـــــداره ده

ته هم داسے بل ته کیناستل کوه

## بانګی

نیمه شپه بیدار یمه چغیګــمه

څنګه په ګونګۍ ژبه غګیګمه

اے انسانه ما څه حساب نشته دے

بـیا هـم زه په نیمـــه شپه جړیګمه

شپه په تیریدو شی نیغ ولاړ یمه

وینم ملائک څـکه کړیـګــمه

ګــرزم اهلیو له مے روزی لټوم

خومره په بچو باندے زوریګمه

ته هم لاس او خپے وهه محنت کوه

خپل اهل عیال څه محبت کـــــوه

زه خپلو مادو ته تابعـــدار یمـــــــه

ته هـم اهلیـــو څـــــه محبت کوه

بل بانګی چې راشی ځان پرے وینی کړم

ته هم خپل عزت بانـــدے غیـــرت کـــوه

مـــونږ د سحر اوشو اوازونـــه دی

خواه کښی د بانګیانو فریادونه دی

اے ابو عماره عقـــلمندو لـــــه

هریو حرکت کښی سبقونه دی

۲۰۱۸\۹\۸

## زما بچی او شاګردان

ما چه څه کول هغه مې کـــــړی دی

نور مې دی بچـــــو ته پرېښـــودلی دی

یـا پـه لـویـدو به مو سترګې یخې شي

ما هم رب نه دوئ داسې غوختلی دی

یاکه په تقدیر کښې خوشحالی نه وه

ډیر ترې داسې تلی غم زپلـــی دی

چاچه څه کرلی هغه ریبی بــــــه

ماخو په خپل جوند ګلان کرلی دی

طمع مې ده داچه به دعاکـــــوی

ما مې رب ته داسې ډیر جړلی دی

زه مې مشرانو له دا ســـــوال کــــــوم

څوک دی لا ژوندی څوک خو درغلی دی

ټولو څه بخشش د مور او پلار غــواړم

زما په غم کښې ډیر زیات کړیدلی دی

زه ابو عـــمـار خـو پرے ورغلےیم

دا بچی مې تا باندے سپارلــی دی

۲۰۱۸\۹\۱۹

## خاوره

زه خاوره یم ته مانه پــیــدا شــوے ئې

بیا ما په خپل ځان باندے ځائے کړے ئې

ما ته چه تا کوم تخم سپارلے دے

ما په خپله غیږه کښې پاللے دے

زه چه څنګه ستا امانتداره یم

ته هم دحقــوقو پاسداری کوه

څوک چه درڅه خه کوی ته خه کوه

خــوئی دخاکسارئ وفاداری کـــــوه

څوک مے اړول څوک کنستل کوی

ګوره ما ته داسے خاموشی کـــــــوه

ما کښی رازداری او پرده والے دے

جوړ شه پرده پوخ او راز داری کوه

څومره مے سینه کښی راځائے کړی دی

داسےخه او بد څه زنـدګــی کـــــوه

خاورے نه پیدا ئے خاورے کیږی به

اے ابوعماره خاکســـاری کـــــوه

## د احساس اور

د احساس په اور چه اوسوزی شاعر شی
ورنه ما د شاعرئ په دنیا څــــه کـول
لیونے غونډے جانان مے په نصیب وو
ده به بد هله کول چه ما به څه کــول

کتابت ۱۰ محرم ۱۴۴۰

## د خلقو چالاکی او زمونږه سادګی

نه پوهیګم ربه چه دا خلق څنګـــــه خـــلــــق دے
مونږ ته چه څوک اوخاندی بس مونږ ورته خاندلی وی
ته به وائے رور مے دے خنـــده لباســـــی نه ده
چه وخت درشتیا راشی ابو عماره دوئی خویدلی دی

۱۰ محرم ۱۴۴۰

## د هر انسان خیرخواهی

خپل کندړ کښې ناست یم خو غم ستا کوم
په رب قسم چه غم دی د سبا کوم

ته که مے خیر خواه او که بد خواه ګنړے
زه خو خیر خواهی ستا پشی شاه کوم

تا ته که زه رور د اسلام نه ښکارم
هسے د اسلام دعوی بیا مه کوه

اے ابوعماره که منے اوکنه
ویمه چه څه ویمه هم هغه کوم

۱۵ محرم ۲۷ \ ۹\۲۰۱۸

## خلاصة الایت

﴿ان الله اشتری من المؤمنین انفسهم واموالهم بان لهم الجنة﴾ الایة

یــــه انســانه مـاخـــه یــو سودا اوکــړه

کـلکـــه یـــو وعده راخـه رشتیا اوکـــړه

نفس اومال دے ما باندے را خـرڅ که ته

صـــدق څـــه وینا د لاالـٰــه اوکــــــړه

تـا لـه پــه بـــدلــه کښـــی جـنتونه دی

حــورے دی غلمان دی او باغـــونه دی

اے ابـــو عماره یـــو نعمت دے بـــل

رضـــا د پـــاک اللّٰه او دیدارونـــــه دی

۲۰۱۸\ ۹\ ۱۶

## په هر حالت د اللّٰه کریم نه دعا غوښتل

غـــواړه رب نـــه غـــواړه خـه جـړا کـــوه

رب تـه پـــه مـــنت زارئ دعـــا کـــوه

ربــه ستــا نه غــير مــے بل دربــار نشته
غــــوارم درنه غوارم خه دعا کـــوه

رب وائـــی کـه ډيـر زيات ګـنه ګار ئے ته
زه يــم ستا بخـــونکے يقيــــن دا کـوه

څـــه کـــوو دا مونږ تـــه ميــلاويـګی څـه
اے بابا رحـــيم دے يره مــــه کـــــوه

## دغريبانو احساس

چه د کور په طمع لاړلے تور ګور تـــه
دغه ګور ئے د جنت يو خائسته کور کړه

د نيستئ سپــيرو ډيـــــــر دے دردولـــے
د جنت پـــه باغيچو کښی ئے سمسورکړه

ابوعمار ١٠ محرم ١٤٤٠

## په دنیا کښې سکون محال دے

ځوک چه په دی دنیا سکون ګوری

لکه آسمان کښی دے چاودون ګوری

یا په صبا کښی دے بیګا لټوی

یا په بیګا کښی صباوون ګوری

یاپه فلک کښی دے ارضی مخلوقات

یا په ارضٌ کښی فلکۀ ګوری

## الله کریمه زمونږه فیض عام کړه

اے الله د خلقو زړونه یومیدان که

زما آواز ورته د خپل رحمت باران که

د توحید سنت تخمونو څه زرغون که

ته خائیسته پرے د دنیا دا ګلستان که

زما په زړه کښې چه اوس څه دی زما ربه

ته پوره مې دا ارمان په دو جهان که

نن به ئې صبا به نه ئې ابو عماره

بس که اوباسه توبه زان دے انسان که

۲۰۱۸\ ۹\ ۱٤

## جُبُن ، بُخل نه ځان ساتل

بخل جبن دواړه شک دے په تقدیر کښې

سُوءالظن دے په اللّٰه چه به مے ګیر کړی

## خلاصه ما فی مصارع العُشاق

رب رحمان دے ته یقین کړه ابو عماره

هم رحیم دے ما به بچ د هر شریر کړی

## د خپل ځان ذِکرِ نیک پریخودل

مونږ به دواړه تورو خاورو کښی پراته یو

د دنیا خلق به مونږ پورے قصے کـــــړه

څه قصــه د زمانے شه ابو عمــــــــاره

دے بد بختو ته نن ډیر خلق خیرے کړه

## د آخرت د سفر فکر

دےسفـــــر پـــــسےسفـــــــــــر دے

نهـــــــایتِ پـر خطـــــــــــــــــر دے

رب دی خیر کړی څه به کیږی

زړه زما پرهر پرهــــــــــــر دے

ابوعمار ۱۱ محرم ۱۴۴۰

## د ژوندګی یو مثال

ژوندګی پشان د ونے ده دلبـــــــــــــره

تنه کال دے میاشتے دی دددے ښاخونه

ورځے ځانګے دی وختونه د دی پاڼړے

خه او بد یا دی میوے یا عذابونــــــــه

## خبرے په سوچ کول

ژبه داوښیـــــار سړی په زړه کښی وی

زړه د کم عقلانو تل په خُله کښی وی

ابو عمار ۱۰ محرم

## ژوندو له د مړو احساس

زه قیدی یمه د ګور ته لا په کـــورئے

ولے زه دے یم هیر کړے په دُعا کښی

کــه دی یاد ابوعمار کړو په ما ګـــــــرانه

ما به اوموے قیامت کښی ځان پخواه کښی

## د طلبِ علم مرتبه

عــلــم د ښو خلقــــو جامـــــه ده

زه مسافــر ورپسے کـــډے ګرزومــه

## د نیا یو خوب لیدل دی

زنـــدګی یــو خــوب لیــــدل دی

مرګ د دے بیــــــــــدریدل دی

یا ټول عمر خوشحالــــــــــــی ده

یا ټول عمر جړیـــــــــــــدل دی

ابو عمار ۱۱ محرم ۱٤٤٠

## د ژوندګۍ حقيقت

ښکلي چه ځمکه تکه شنه شي او خائسته شي

داسې ژوند يو تازګي ځواني مستي شـــــــي

آخر دا چه هر شے اوچ زره زره شـــــــــــــي

داسې ژونـــــد کښي بـــوړاوالے او نيستي شـــي

آخر خاورو سره خاورے دا ګلان شـــــــي

داسې دوئ هم په کټ پريوزي بيمـــاران شي

هر يو شي لره فناده بقا نشتـــــــــــــــه

ابو عمـــــــــاره آخر رب ته ورروان شي

١٦محرم ١٤٤٠

## دآخرت سوچ

یا خو ئے دوی نه منی یا ترینــه هیــــر شــوے دے

څوک چه ئے په سوچ کښی دی زړه ئے جړیدلے دے

نه پکښی دروغ شتــه دے نه ترے بله لار شتــه دے

نه ترے خلاصیدے شی څوک نه ئے بله چار شته دے

نه ترے څوک پټ شوے دے نه ترے تختــیدلےدے

څوک چه ئے په سوچ کښی دی زړه ئے جړیدلے دے

نه بره ترے ختلے شے نه خکته کــــــــــوزیدلے شے

مشرق مغرب هم لری دی نه مینځ کښی خلاصیدلے شی

اے ابوعماره هر انسان ئے راګیر کــــــــــړے دے

څوک چه ئے په سوچ کښی دی زړه ئے جړیدلے دے

۱۶محرم آذان مغرب

## په دنيا کښې د قيامت استحضار

دا چه ته پکښې ولاړ ئې دا قيـــامت دے

منډے ترړے هائے سوران دے او هيبت دے

دا په لاس چـه درکوی عمـــــــــــــل نامے دی

وړاندے اوګوره ميزان دے او پاک حضرت دے

دا چه شنه باغونه حورے پکښې ښکاری

دا خوشحاله خوشحالی ده داجنـــــت دے

دا چه سرے لمبےښکاريګی اور بليګــــــــی

هر کافر لـــره حسرت دے لوئـــے حسرت دے

مړه کيدل دی پاسيدل دی اودريدل دی

ابو عمار وائی دا ټول بس يو ساعت دے

## د ژوند مقصود

ته مقصود د زندګئ دا آخـــــرت کــــړه

جوړ په ځان باندے پدے دنيا قيامت کړه

اوس سوچ اوکړه ما څه ځـــــان سه راوړی

لرے لرے د دنيا هر خوئے عادت کـــــــړه

کــــوم ارمان چه هلتـــــه کے نن ئے پوره کړه

شابه زر که کړه اوتـــړه عــجلـت کـــــړه

چه د بل په غم کښی جاړے ځان دے هير دے

ابوعـمــاره حــماقـــت دےحـمـــاقـــت کـــه

۱۷محرم ۱٤٤۰

## د زړه خبره

يو د زړه خبـــره کومه په زړه ئـــے واوره

خپل وختونه فضول مه تباه کـــــــــــوه

پـــه بازار د مــلــغلــرو ورتـــيـــــــــــريګے

جـولــــئ ډکـــه کـــړه وخت مـه ضــائع کـوه

ډيــر ارمان بـه پســے اوکـړے وخت به تير وى

اے بــد بــختـــــه ځان دى مه خــرابــــــوه

چــه پوهــيګى هغه پوئے شى ابو عمـــــــاره

چه غوګ نه ګدى ځان پرے مه سترے کوه

۱۹محرم ۱۴٤۰

## بادشاهانوته

پرون نه وے نن موجود شوے فکر اوکـــــــــړه
بیا ماشوم شوے بیا ځلمے شوے کامل ځوان شوے

عــقـلـمنـــد او ماهـــــران په دنیا ډیــــر وو
کوم صفت وو چه په دوئ کښې ته کامران شوی

یو دے خوئے د عاجزئ کـــړه د زړه سره
ظلم مه کړه که قادر په ټول جهان شوے

هر یـــو کـــشر ته د ځــوئے په نـظـــر ګــــوره
معـــــاشـره دے شوه اولاد ته بابا جــان شـــوے

نن په تخت صبا تختے باندے نسکـــور وی
لګ سوچ اوکړه چه د قبـــر بندیوان شوے

پـــاک د فنـاه پـاک دے ابـو عمـــاره

مـا به وئیـل تـا نه منل تـرینه روان شوے

۱۳محرم ۱۴۴۰

## نصیحت

خه ئے واورئ هر انسان ته نصیحت دے

خیر خواهی ده خیر خواهی ده وصیت دے

کـه بادشـاه د زمانـے ئـے فناه کیـبږی

حـقیقـت دے حـقیقـت دے حـقیقـت دے

توښه لګه لار اوګـده ده زما رونـړو

زان تیار کړئ روانیکو ترے رحلت دے

دا چـه بـل بیـدار وی ابوعمـاره

خپله خـوب کړی حمـاقت دے حماقت دے

﴿الصدق ینجی والکذب یهلک (الحدیث)﴾

کِذب تبــاهـــی ده رسول وئیلـــی دی

صدق کښې نجات دے خـــلاصول کوی

اے ابـــو عمـــــاره ځان تـــرے اوســـاته

دا دروغ دنیا کښـــــی شـــرمیـــــدل دی

۱۷محرم ۱٤٤۰

زما اندامونه

ربه ما چه څه کـــول هغه مے کـــړی دی

ستا ډیر زیـــات حقونه مے وهـــلی دی

ما بـــه ورته وئیــــل چه ورته مه ګورئ

دے سترګــــــو زما کلـــه منلی دی

کله ښــه سړے شـــم چـه زه نـه ګـــــورم

کله مـے د قصـــــده ورکـتلـــــــــی دی

کـــله زان غـافل کــړم چـــــه زه نه اورم

کـــله ښـه په شــــوق مے اوریدلـــی دی

لاسـونو ته مے وئیل چـه داسـے مـه کــوئ

ستا مـــخالفت کښـــی پاســـیـــدلـــی دی

زړه تــه مے زاری اوکــړه چه مه راوړه

ده پکښـی بُتان ډیر اودرولـــی دی

ژبے راســه بار بار ژبه کـــړی ده

نــه به ویمه بیا ئے هغه وئیلی دی

هسے راتـــه وائی مـــــونږه ستا یو تهول

کله چه منل شی نو خویدلــــــــی دی

ربه ابو عمار نه باغیان شـوی دی

ستا خوښه ده تا ته مے سپارلی دی

۱۸\ ۹ \۲۰۱۸

## د بدن کینیات

عمل ته چه مے ګورمه یریګمـــــــه

ربه زه رپیګم ویم مړکیـــــــــــږمه

ستا رحم او کرَم ته چه نظر مے شی

بیرته راژوندے شمه او سیګمـــــه

یو ساعت کښې ښکته راګوزار شمه

بل کښې شم هوا بره ورخیجمـــــــه

ته ئے ربه تا لره بدلون نشته

زه ابوعمار ساده بدلیګمـــه

## د ژوند د آخری لمحې تصور

راته ښکاری زما د ژوند آخر ساعت دے

روح مے راغلے مرکنډ ته په رِحلت دے

درنګ ساعت له روح د تنه جدا کـیږی

وړاندے قبر حشر بیا عظیم قیامت دے

چـه بـربنډ لـغړ به څه زمـونږ حالت وی

پـه دنیا د دی قیامت وړاندے قیامت دے

څوک په چـغو په سورو په واویلا دی

ورته ګورمه لړزیګمـه هـیبت دے

خپل به خپل نه په غـفلـت وی ابوعمـاره

ګران ساعت دےګران ساعت دے ګران ساعت دے

۱۰ محرم ۱٤٤۰عشاء ۹:۱۵

## نصیحتونه او وصیتونه

زمه درنه ځمـــه زه روان یمـــه
کور زما جدا دے زه مهمان یمه
یو د کوتاهۍ راته معافی کـــــــوه
بل ستا جدائی کښی هم پریشان یمه
فصل کرل کیږی نو ریبلوله
زه هم پخیدو ته ور روان یمه
تلو کښی درته څو خائسته قولونه کوم
غـوږ شه درته دا نصیحتونه کـــــوم

## یو څو نصیحتونه

یقین پدے ساته او پدے یقین کـــــــوه
چه ستا هم دے دنیا نه رخصتـــــونه دی

یو ظلم زیاتے د چا سه مه کـــــــوه

رب سه د دے لوئے لوئے عذابونه دی

څوک چه درسه بد کړی ورسه خه کوه

دا د انبیاءِ کرامـــــو خـصـلتـونــه دی

مه اخله هیڅ بدله په دنیا مه اخلـــه

رب سره بدلے لوئے لوئے اجرونه دی

وخت ضائع کول دا تباهـی ګنړه

ذِکر فِکر دواړه لوئے خویونه دی

جُحت کړه قرآن جُحت کړه د سینے سره

دا د ابـــوعمـــار وصیـتـونـــــه دی

## د ژوند نه غفلت

ورځے شپے صبا شوے خبر نه شولو

څه وه زنــدګی څه له راغلـــــی وو

څنګ چه تیرے شوے نه خبر نه شو

داسے په راتلونکے تیر وتلـــــی یو

اے ابوعماره ځان بیدار کـــــه تـــه

داسے راته ښکاری پرے ورغلــی یو

۱۲محرم ۱٤٤٠

## یو نصیحت

د دنیا د سترو ستونزو په مرګی سرے دمه شـی

رب دے نه کړی دا دمه راته د دینه هم درنه شی

## يو نصيحت

پدے ژوند كه چا سه خه كولـــے نشے
بد خو مه كو دا ژوندون د ختميدو دے

كـــه غريب فقير له خير وركــولے نشے
سپي خو كورے كه آخر سر د ورتلو دے

ملا دے اوتړه د هر غريب خدمت كـښى
سر دے ښكته كړه دا سر د كيخودو دے

چراغان شه د فقير د كور ډيوه شـــه
خه تونبه كه دا جهان د پريخودو دے

چه د بل خيــــر لــتـــوى ابوعمــــــاره
ما ترے زار كړے دغه ځوان د زاريدو دے

## ظالمه ګناه او ظالم بنده

ربه ګناهونو راګير کـــــړے يم

بند په بند په پړو ئـــے تړلـــے يم

نه ئے خوک ليدلے شی چه اوئے نيسی

نه مے چغے اوری خفی کـــړے ئے يم

خلق وائی خير دے روره خير به شی

زه ابو عمار خامار خــــــوړلے يم

١٤اګست ٢٠١٨ کتابت ١٢محرم ليلا

## خپلې مور ته

دا د ٢٠٠٩ / ٧ / ١٨ خبره ده چه داوړی په شپو کښی بهر ملاست ووم ـ د آسمان ستورو ته می کتل ناڅاپه زما د وفات شوے مور يادونه مے په زړه راوريدل او د هغے مينے راپاسولم او ليکل مے شوروع کړه چه دينه فارغ کيدم نو داوړی د شپے څه کم يوه بجه

وه ـ دينه مخکښې هم ما پدے موضوع څه ليکل کړی وو هغه زمانه بے درکه شوی دی ـ

الله دی دا ليکل بلکه دا ټوله رساله زما د مور د مغفرت ذريعه اوګرزوی آمين ثم آمين ـ

## مـــــور

| | | |
|---|---|---|
| م ↓ | و ↓ | ر ↓ |
| مينه | وفا | رحمت |

اے مورے ميم دی مينه واو وفا راء دی رحمت وو

ستا يو نظرکتل مونږ ته پدے دنيـــــا جنت وو

### ابوعمار وائی د مور قدر اوکـــــړئ

اے مورے ستا هغه مينه او وفا مے نه هيريګی

د خړے کوټے ناسته او خندا مے نه هيريګـــی

اے مورے بجلی نه وه تا به بوس لوګے کولو

په ستــړو چاچو مورے تا ببوزی به وهلو

اوده به ومه مورے تا به مخ مے خکلولو

سحر وختی آواز بچه بچه مے نه هیریګـــی

د خړے کوټے ناسته او خنده مے نه هیریګی

اے مورے مالیـدلو په ته څه چـــه تیریدلو

چه مونږ به وو ناجوړه ستا به زړه رادردیدلو

په نیمه شپه به چائے د غریبئ دے خوټکولو

خفـه دلـــګیره ناسته (یا الله) مے نه هیریګی

د خړے کوټے ناسته او خنده مے نه هیریګـی

جامه پیزار به څه وو بس زاړه به راګنډل وو

ذرے ذرے وجود څه به د شپے دا کړیدل وو

خپے ابله یا د ربړ په څپلو کښی ګرزیدل وو

د غنو ډکو خپو ته ستا غوغه مے نه هریګـی

د خړے کوتے ناسته او خنده مے نه هیـــریګـــــــی

اے مورے خبر نه ووم چه دا څه دی څه به کیـــږی

ما وئیلے زه به ځوان شم دا سپرلے به زرغونیګی

بهـــار بـــه وی مستی نو بلبلان به ټول چغیګـی

د دے بلبلو مینځ کښی ستا چغا مے نه هیریګی

د خړے کوتے ناسته او خندا مے نه هیریـــــګی

بے شکه غریبی وه فقیری وه هم نیستـــــی وه

نه زه ووم او نه ته وے نه زمونږه څه هستی وه

په تشو لاسو خپو د دے چمن سرپرستـــــــــــی وه

ستا غیږ د غریبئ کښی یو یو شپه مے نه هیریګی

د خړے کوټے ناسته او خنده مے نه هیریګـــــــــــی

اے مــــورے چه زه لوئے شوم ته خـــــزان اودردولے

هر قسمه بیمارو کښــی د جهـــــان اوزپیدلے

یو ګل وے د ګلاب ارمـــــان په څه اوریجیــدلے

د سترې زړه آهونه څه جړا مے نه هیــــــــریګی

د خړے کوټے ناسته او خنده مے نه هیریګـــــــی

اے مورے ما لیدلے چه مونږ ستا خواه کښی پراته وو

کمبل کښی وے تاو شـوے دا د ژمی یـــخ ســـاړه وو

ستا خپو څه لګولی ما د سترګو خپل بانــړه وو

د نیـــمے ـپے خبرے ســتا دعا مے نه هیریګی

د خـــړے کـــوټے ناسته او خنده مے نه هیریګی

اے مورے تا لیدلم چه زه څـومره حـــــیران ووم

نه وَس وو نه مے توان وو زه به خومره پریشان ووم

په سوال او په زارو باندے د پاک غنی سبحان ووم

چه جوړے شولے چغے ستا خُکلا مے نه هیریګـــــی

د خړے کوټے ناسته او خنــده مے نه هیـــریګـــی

اے مورے رانه لاړے زړه مے ډک دے ځکه جاړی

په سوال او په زارئ دے دا د پاک الله نه غـــــواړی

چه رب دے زما مور په رحمتونو کښی اونغاړی

الله ته جنت ورکړے چرے دا مے نه هیـــریګی

د خړے کوټے ناسته او خنده مے نه هیریګی

د ډیرو بچو مـورے ته نن ولے په بل کور ئے

خفه شوے راته وایه ؟خفه مه شے خپلے مورے

د قبر خواه کښی کینم ته خاموشه پـــرده پـورے

آخره ورځ آخر ساعت بیا بیا مے نه هیریګی

د خړے کوتے ناسته او خنده مے نه هیریګی

فراغت از کتابت ۲۰۱۸ /۱۰ /۵ صباحاً

**یوعرض**

زه نه شاعر یم او نه د شاعرئ دعوی کوم لیکن د زړه خبرے اکثر منظوم صورت کښی لیکم نه زه پدے وزنونو دومره سوچونه کوم او نه دیته دومره وخت ورکوم نو چه کومو شعرونو کښی کمے زیاتے وی معذرت غواړم او دا لیکل هم ما ابوعمار په خپلو ګوتو کړی دی او یقینی ده چه د دوباره کتلو وخت هم میلاو نه شو ـ د هرے غلطئ معافی غواړم مولانا غلام نبی صاحب او مولانا احسان الله صاحب حاضر دی او اوس پشاور ته روانیګی الله دے دوئ له جزائے خیر ورکړی

الله العٰلمین ته ئے زمونړه د مغفرت ذریعه اوګرزوے آمین ثم آمین .

فراغت از کتابت وقت ۹:۳۰ ۲۰۱۸ / ۱۰ / ۵

( غرضِ کاتب )

رونړو ! مونږ په کتابت او کمپوزنګ کښې د خپل وَس مطابق د غلطو نه ځان بچ کړے دے . لیکن بیا هم د انسان کتاب د غلطۍ نه محفوظ نه دے . نو د ټولو کتونکو په خدمت کښې عرض دے . چې په لیکلو کښې تاسو ته څه قسم غلطی ملاو شوه نو د هغې تصحیح اوکړۍ او د غلطۍ نسبت که د مصنف په ځائے کاتب ته اوکړے شی دا به ډیره مناسب وی . ( والسلام )

نه دی ترے څه جوړ کړل او نه به ترے څه جوړ کړے

هیـــــــځ به په لاس درنشی هر څه که نچـــوړ کړے

( اخون بابا مرحوم ټوپیوال )